# دافغانستان اسلامي جمهوريت

## دعدليې وزارت

# رسمي جريده

- د درملو او طبي لوازمو د توليد او توريد د مقررې د پنځلسمې مادې د (۱) فقرې تعديل
- د ملکی خدمتونو د بستونو د تنظيم مقرره

- تعديل فقرۀ (۱) مادۀ پانزدهم مقررۀ توليد و توريد ادويه و لوازم طبی
- مقررۀ تنظيم بست های خدمات ملکی

د خپريدو نېټه:د ۱۳۸۷ هـ .ش کال د وږي د مياشتې (۱۶)
پرله پسې نمبر: (۹٦۰)

تاريخ نشر : (۱٦) سنبله سال ۱۳۸۷ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۹٦۰)

در این شماره :

**۱- مصوبۀ شماره (۲۵) مؤرخ ۱۳۸۷/۵/۲۶ شورای وزیـــران ج.ا.ا در مورد تعدیل فقرۀ (۱) مادۀ پانزدهم مقررۀ تولید و تورید ادویه و لوازم طبی.**

**۲- مصوبۀ شماره (۲۷) مؤرخ ۱۳۸۷/٦/۱۱ شورای وزیران ج.ا.ا در بارۀ مقررۀ تنظیم بست های خدمات ملکی.**



**د امتیاز خاوند: دعدلیې وزارت**

وب ســــــایت: www.moj.gov.af

مسؤل چلوونکی: عبدالرشید "قیومي"

د دفتـــر تیلـــفون: ۲۱۰۳۳۷۵

۰۷۰۰۲٦۰۲۷۴ - ۰۷۰۰۰۱۱۸۳۸

مرستـــیــــال: نور عـــلــــم

۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتـــمـــم: محـــمد جـــان

۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

قیمت این شــــماره : (۲۰) افغاني

تیـــــراژ چاپ اول: (۵۰۰۰) جلد

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات، چهارراهي پشتونستان، کابل

**د درملو او طبي لوازمو دتوليد او توريد دمقررې دپنځلسمي مادې د (۱) فقرې دتعديل په هکله ،د افغانستان د اسلامي جمهوريت دوزيرانو دشورې مصوبه**

ګڼه :(۲۵)

نېټه : ۱۳۸۷/۵/۲٦

**لمړۍ ماده:**

**د۱۳۸۵/۱۲/۵ نېټې پـه (۹۱٦) ګڼـه رسمي جريده کې خپره شوې د درملو او طبی لوزامو د توليد او توريد د مقررې د پنځلسمې مادې (۱) فقره دې په لاندې متن تعديل شي :**

**(۱) وزارتونه او دولتي اداري کولي شي دخپلـــې اړتياوړ درمل او نورطبي لوازم د تدارکاتو دقانون او دغې مقررې د حکمونو مطابق وارد اوتدارک کړي .**

**دوه يمه ماده :**

**دغه تعديل د تصويب له نېټې څخه نافذ او په رسمی جريده کې دې خپور شي.**

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبۀ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان درمورد تعديل فقرۀ (۱) مادۀ پانزدهم مقررۀ توليد وتوريد ادويه و لوازم طبی**

شماره : (۲۵)

تاريخ : ۱۳۸۷/۵/۲٦

**مادۀ اول:**

**فقرۀ (۱) مادۀ پانزدهم مقـــررۀ توليـــد و توريد ادويه و لوازم طبی منتشرۀ جريـــدۀ رســـــمی شـــــماره (۹۱٦) مـــؤرخ ۱۳۸۵/۱۲/۵ به مـــتن ذيـــل تعـــديل گردد:**

**(۱) وزارت ها و ادارات دولتی می توانند ادويه وساير لوزام طبی مورد نياز خويش را طبق احکام قانون تدارکات و اين مقرره توريد و تدارک نمايند .**

**مادۀ دوم :**

**اين تعديل از تاريخ تصـــويب نافـــذ و درجريدۀ رسمی نشر گردد.**

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## دملكي خدمتونو د بستونو د تنظيم د مقررې په هكله دافغانستان داسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري مصوبه

ګڼه : (۲۷)

نېټه : ۱۳۸۷/٦/۱۱

دملكي خدمتونود بستونود تنظـيم مقرره چې د افغانستان د اسـلامي جمهوريت دوزيرانو شوري لخـوا په(۳) فصـلونواو (۷) مـادوكې تصويب شوېده منظور وم .

دغه مقرره دتصـويب لـه نېټـې څخه نافذه او په رسـمي جريـده كې دې خپره شي .

**حامد كرزى**

**دافغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

## مصوبۀ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان دربارۀ مقررۀ تنظيم بست های خدمات ملکی

شماره : (۲۷)

تاريخ : ۱۳۸۷/٦/۱۱

مقررۀ تنظيم بست های خـدمات ملکی را کـه در(۳) فصـل و (۷) مـاده توسـط شـورای وزيـران جمهـوری اسـلامی افغانسـتان تصويب گرديده منظور می دارم .

ايـن مقـرره ازتـاريخ تصـويب نافذ و درجريـدۀ رسـمی نشـر گردد .

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

# فهرست مندرجات مقررهٔ تنظیم

# بست های خدمات ملکی

## فصل اول

## احکام عمومی

| ماده | عنوان |
|---|---|
| صفحه | |


مادهٔ اول: مبنی.............................................۲

مادهٔ دوم: اهداف...........................................۲


## فصل دوم

## معیارها


مادهٔ سوم: تثبیت معیار ها.........................۳

مادهٔ چهارم: معیار بست ها ........................۳


## فصل سوم

## احکام متفرقه


مادهٔ پنجم: مکلفیت وزارت ها و ادارات دولتی..............۷

مادهٔ ششم: وظایف کمیسیون.............................۸

مادهٔ هفتم: انفاذ............................................۹

بسم الله الرحمن الرحيم

## د ملکي خدمتونو د بستونو د تنظيم مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره دملکي خدمتونود کارکوونکو د قانون د دريم دېرشمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم له مخې، د ملکي خدمتونو د بستونو د معيار د تثبيت او تنظيم په منظور، وضع شوېده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له :

۱- د ملکي خدمتونو دکارکوونکو دقانون په اتمه ماده کې ددرج شوو بستونود معيار تثبيتول او تفکيک کول.

۲- د اړوندې ادارې د موخو او پروګرامونوپر بنسټ د هربست معياري کول.

## مقررۀ تنظيم بست های خدمات ملکی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقررۀ به تأسی ازحکم مندرج فقرۀ (۱) مادۀ سی وسوم قانون کارکنان خدمات ملکی به منظور تثبیت و تنظیم معیار بست های خدمات ملکی وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- تثبیت وتفکیک معیار بست های مندرج مادۀ هشتم قانون کارکنان خدمات ملکی.

۲-معیاری ساختن هر بست بر اساس اهداف و پروگرام های ادارۀ مربوط.

## دوه يم فصل

## معيارونه

**د معيارونو تثبيت**

**درېيمه ماده:**

د ملكي خدمتونو بستونه د لاندې معيارونو پر بنسټ، تثبيتېږي:

۱- د اړوندې ادارې له موخو او پروګرامونوسره دهربست مطابقت.

۲- د منظور شوي معيار او تشكيل مطابق، د بستونو ارتباط.

۳- د اړوندو بستونو مطابق، د كار د حجم، ماهيت او دنده ييز خپلواكتوب تناسب.

۴- له بست سره د تحصيل د درجې، كاري تجربې او مهارتونو مطابقت.

**د بستونو معيار**

**څلورمه ماده:**

(۱) د لومړي بست معيارونه عبارت دي له:

۱- د دولت د موخو اوپروګرامونود په نظر كې نيولو سره د اړوندې ادارې د موخو او پروګرامونو طرح كول او

## فصل دوم

## معيار ها

**تثبيت معيارها**

**مادهٔ سوم:**

بست های خدمات ملکی بر اساس معيارهای ذيل تثبيت می گردد:

۱- مطابقت هر بست بااهداف و پروگرام های ادارهٔ مربوط.

۲-ارتباط بست ها مطابق معياروتشكيل منظور شده.

۳- تناسب حجم كار،ماهيت و استقلاليت وظيفوی مطابق بست های مربوط.

۴- مطابقت درجهٔ تحصيل ، تجربهٔ كاری و مهارت ها با بست.

**معياربست ها**

**مادهٔ چهارم:**

(۱) معيار های بست اول عبارت اند از:

۱-طرح وتطبيق اهداف و پروگرام های ادارهٔمربوطه با نظر داشت اهداف و پروگرام های

تطبيقول .

۲- د اړوندې ادارې د پلان تنظيمول او منظورول .

۳- د ترلاس لاندې ادارو مديريت او لارښوونه.

۴- د اړوندې ادارې د کلني کار د پلان پر بنسټ د بودجوي اړتياوو تشخيصول او وړانديزکول.

۵- د اړوندې ادارې له اجراآتو څخه څارنه.

٦- د ترلاس لاندې ادارو د کار د حجم او د دندې د ماهيت تنظيمول.

(۲) د دوه يم بست معيارونه عبارت دي له:

۱- د اړوندې ادارې د موخو او پروګرامونو په بډاينه کې د مشورې وړاندې کول.

۲- له مرکزي او ولايتي تر لاس لاندې ادارو سره دنده ييزې خپلواکې اړيکې.

۳- د اړوندې لايحې مطابق د پروګرامونو په تطبيق کې د خدمتونو دحجم اوارزښت تشخيصول .

۴- د ترلاس لاندې ادارو او

دولت.

۲- تنظيم پلان ادارهٔ مربوط و منظوری آن.

۳- مديريت ورهبری ادارات تحت اثر.

۴-تشخيص وپيشنهاد نياز های بودجوی به اساس پلان کارسالانهٔ ادارهٔ مربوط.

۵- مراقبت از اجراآت ادارهٔ مربوط.

٦- تنظيم حجم کار و ماهيت وظيفهٔ ادارات تحت اثر.

(۲)معيارهای بست دوم عبارت اند از:

۱-ارايهٔ مشوره درغنا مندی اهداف و پروگرام های ادارهٔ مربوط .

۲-ارتباط مستقلانهٔ وظيفوی با ادارات تحت اثر مرکزی ياولايتی.

۳- تشخيص حجم وارزش خدمات در تطبيق پروگرام ها طبق لايحهٔ مربوط.

۴- مديريت و رهبری ادارات و

کارکوونکو مديريت او لارښوونه.

۵- د اړونـــدې اداري د موخـــو او پروګرامونو له تطبيق څخه څارنه.

٦- د اړوندې اداري د کلني کـــار د پلان پر بنسټ، د بودجـــوي اړتيـــاوو تشخيصول او وړانديزکول.

(۳) د درېيم بست معيارونه عبارت دي له:

۱- د اړونـــدې اداري د موخـــو او پروګرامونو تطبيقول.

۲- د اړونـــدې اداري د موخـــو او پروګرامونو د تطبيق مديريت او څارنه اودترلاس لاندې کارکوونکو زده کړه.

۳- د اړونـــدې اداري د موخـــو او پروګرامونو د پلي کېدو په کار کې د تصميم نيول.

۴- اړونـــدې اداري تـــه د مســـلکي مشورو وړاندې کول.

(۴) د څلورم بست معيارونه عبـــارت دي له:

۱- د اړونـــدې اداري د موخـــو او پروګرامونو تطبيقول.

۲- د اداري د موخو اوپروګرامونو د

کارکنان تحت اثر.

۵- مراقبت از تطبيق اهداف و پروگرام های ادارۀ مربوط .

٦-تشخيص وپيشنهاد نيازمندی هـــای بودجوی به اساس پلان کارسالانۀ ادارۀ مربوط.

(۳)معيار های بست سوم عبارت انـــد از:

۱- تطبيق اهداف و پروگرام های ادارۀ مربوط.

۲- مديريت ومراقبت از تطبيق اهداف وپروگرام های ادارۀ مربوط و آمـــوزش کارکنان تحت اثر.

۳- اتخـــاذ تصـــميم درامـــر تحقـــق اهـــداف پروگـــرام هـــای ادارۀ مربوط.

۴- ارايۀ مشوره های مسلکی به ادارۀ مربوط.

(۴)معيا رهای بست چهارم عبارت اند از:

۱-تطبيق اهداف و پروگرام های ادارۀ مربوط.

۲-اتخاذ تصميم  در امر تحقق اهداف

پلي كېلو په كاركې د تصميم نيول.

۳- د مديريت د دندو تنظيمـــول او د ترلاس لاندې مســـلكي اواجرائيـــوي كاركوونكو لارښوونه.

(۵) د پنځم بست معيارونه عبارت دي له:

۱- د اړوندې اداري ددنديزو ستونزو د حل لپاره د مشورې وړاندې كول.

۲- د نوو مقررشـــوو كـــاركوونكو لارښوونه او د دندو د لايحې مطـــابق، هغوي ته د تجربو لېږدول.

(۶) د شپږم بست معيارونه عبارت دي له:

۱- د اجراآتو په غرض هدايت اخستل او د څارونكي له مشورې څخه ګټـــه اخستل.

۲- د دندو د لايحې مطابق د دندو پر مخ بيول.

۳-دسپارل شوودندودسرته رسېدو له تمې وړ (متوقعه) پايلو څخه خبرتيا.

(۷) د اووم بست معيارونـــه عبـــارت دي له:

۱- د دندو د لايحې او د كار د پلان د

و پروگرام های اداره .

۳- تنظیم وظایف مدیریت و رهبـــری کارکنان مسلکی واجرائیـــوی تحـــت اثر.

(۵)معیار های بست پـــنجم عبـــارت اند از:

۱-ارایهٔ مشوره برای حل مشـــکلات وظیفوی ادارهٔ مربوط.

۲- رهنمائی کارکنان جدید التقـــررو انتقال تجارب به آنها مطـــابق لایحـــهٔ وظایف.

(۶)معیارهای بســـت ششـــم عبـــارت اند از:

۱-اخـــذ هـــدایت غـــرض اجـــراآت واســـتفاده از مشـــورهٔ مراقبـــت کننده.

۲-پیشبرد وظایف محولهٔ طبق لایحـــهٔ وظایف.

۳- آگاهی از نتـــایج متوقعـــهٔ انجـــام وظایف محوله.

(۷)معیارهای بســـت هفـــتم عبـــارت اند از:

۱-انجام وظایف فنی و حرفوی مطابق

مسلكي معيارونو مطــابق، د فنـــي او حرفوي دندو سرته رسول.

۲- د اړوندې برخې له تخنيكي وسايلو او تجهيزاتو څخه څارنه.

(۸) د اتم بست معيارونه عبارت دي له :

۱- د دندو د لايحې اودكارد پــلان مطابق، دخدماتي دندوسرته رسول.

۲- د روغتيا ساتنې په پام كې نيول او د اړوندې برخې له تجهيزاتــو څخــه څارنه.

(۹) ددې مادې په (۱- ۸) فقرو كې د درج شوو بســتونو نــور معيارونـــه، عنداللزوم د هر بست د دندو د لايحې پر بنسټ په پام كې نيول كيږي.

## دريیم فصل

## متفرقه حكمونه

**د وزارتونـــــــــــواودولتي ادارو مكلفيتونه**

**پنځمه ماده:**

وزارتونه او ادارې د اداري اصلاحاتو او ملكي خــدمتونو لــه كمېســيون

معيار هاى مسلكى لايحۀ وظــايف و پلان كار.

۲- مراقبت ازوســايل و تجهيــزات تخنيكى بخش مربوط.

(۸)معيارهاى بست هشــتم عبــارت اند از :

۱- انجام وظايف خدماتى طبق لايحــۀ وظايف و پلان كار.

۲- رعايـــت حفـــظ الصـــحه و مراقبـــت از تجهيـــزات بخـــش مربوط.

(۹) سايرمعيارهاى بست هاى منــدرج فقره هاى (۱-۸) اين ماده عنداللزوم بر اساس لايحۀ وظايف هربست نيز در نظر گرفته مى شود.

## فصل سوم

## احكام متفرقه

**مكلفيـــت وزارتهـــا و ادارات دولتى**

**مادۀ پنجم:**

وزارت ها و ادارات ،در تفــاهم بــا كميسيون مستقل اصــلاحات ادارى و

سره په تفاهم کې لانــدې مکلفيتونــه لري:

۱– پدې مقرره او نورو تقنيني سندونو کې د درج شوو حکمونو مطــابق، د منظور شوو بستونو د دندو د لايحــې برابرول او ترتيبول.

۲–دبستونود تثبيت، تعديل او بيا کتنه.

د کمېسيون دندې

شپږمه ماده:

د اداري اصلاحاتو او ملکي خــدمتونو خپلواک کمېســيون لانــدې دنــدې لري:

۱–وزارتونه او دولتــي ادارو تــه د آسانتياوو برابرول او د دې مقــررې د حکمونو د ښه تطبيــق پــه منظــور د مشورو وړاندې کول.

۲– ددې مقررې د حکمونــو د ښــه تطبيق به منظور د تخنيکــي کــړنلارو وضع کول چې د تقنينــي ســندونو د حکمونو مخالفې نه وي.

۳– په وزارتونو او دولتي ادارو کــې ددې مقررې د ښه تطبيق له څرنګوالي څخه څارنه.

خدمات ملکی دارای مکلفيت های ذيل می باشند:

۱–تهيــه وترتيــب لايحــۀ وظــايف بست های منظور شده طبــق احکــام مندرج ايــن مقــرره وســاير اســناد تقنينی.

۲–بازنگری ،تثبيت وتعديل بست ها.

وظايف کميسيون

مادۀ ششم:

کميسيون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی دارای وظــايف ذيــل می باشد:

۱– فراهم آوری تسهيلات به وزارت ها و ادارات دولتی و ارايۀ مشوره هــای لازم به منظور تطبيق بهتر احکام ايــن مقرره.

۲– وضع طرزالعمل هــای تخنيکــی به منظور تطبيق بهتر احکام اين مقرره که مخــالف احکــام اســناد تقنينــی نباشد.

۳–مراقبت ازچگونگی تطبيــق بهتــر احکام ايــن مقــرره دروزارت هــا و ادارات دولتی.

**انفاذ**

**اوومه ماده:**

**دغه مقرره د تصويب له نېټې څخه نافذه او په رسمي جريده کې دې خپره شي.**

**انفاذ**

**مادهٔ هفتم:**

**این مقرره از تاریخ تصویب نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.**

# اشتراک سالانه :

**در مرکز و ولایات : (۸۰۰) افغانی**

**برای مامورین دولت : با ۲۵ فیصد تخفیف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق ، نصف قیمت**

**خارج از کشور: (۲۰۰) دالر امریکایی**

**ISLAMIC REPUBLIC**

**OF**

**AFGHANISTAN**

**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

- **Modification of paragraph one of article 15 of regulation on production and import of medicine and medical equipment.**
- **Regulation on formulation of civil service grades.**

**Date: 6th *SEPTEMBER.* 2008**

ISSUE NO :(960)